مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۴/۰۳/۱۸

د یهودو عادلانه جګړې

(ځلورویشتمه برخه)

(په غزه کې د صهیونستانو ترهګر پوځ عملیات، د ښځو او ماشومانو وژل)

د یهودو بتپرستي (۳)

هغه مهال چې د یهوه خدای په کور (معبد) کې د بتانو مجسمې ایښودل شوي وې نو یهوه خدای حزقیال نبي ته د اسراییلو بتپرستۍ وښودلې، حزقیال وایي:«د یهوه خدای روح زه په خوب کې آسمان ته پورته کړم او د اورشلیم شمالي دروازې ته یې ورسولم چې په هغه ځای کې یو لوی بت ځایپرځای شوی ؤ او د یهوه خدای قهر یې پارولی ؤ، هغه وو چې ناڅاپي مې د اسراییلو خدای، لوی حضور په هغه ځای کې ولیدۀ، (هغه ډول چې وړاندې مې په دښته کې لیدلی ؤ.) یهوه خدای راته وویل:ای خاورینه انسانه! شمال لوري ته وګوره **نو چې ومې کتل، یو لوی بت یې د شمالي دروازې په قربانځای کې ایښی ؤ.**

یهوه خدای وویل: ای خاورینه انسانه، ویني چې [اسراییل] څه کوي؟ د اسراییلو قوم دلته په وېرهوونکو ګناهونو لاس پورې کړی دی، دا د دې سبب نه کیږي چې زه له خپل سپیڅلي کور څخه ولاړ شم؟ راځه چې له دې څخه هم سخت ګناه دروښایم.

... دننه شه او وګوره چې څه ډول ناوړه او کرکجنې کړنې ترسره کوي! نو دننه شوم **ومې لیدل چې د دېوالونو پر مخ د منګورانو (مارانو)، ناپاکو حیواناتو او د اسراییلو د بتانو انځورونه ښکل شوي دي او د اسراییلو اویا تنه مشران د (یازنیا د شافات زوی) سره یو ځای هلته ولاړ دي، د هغو انځورونو عبادت کوي،** له هر یو سره د خوشبوییو د لوګي کولو لوښی په لاس کې ؤ او د خوشبویی لوګی د دوی پر سرونو راټول شوی ؤ.» (د حزقیال کتاب:۳/۸تر۱۱پورې)

حزقیال نبي وایي چې د یهوه خدای لخوا یو بل پیغام هم راولېږل شو:«ای خاورینه انسانه! د اورشلیم جنایتکار اوسیدونکي محکوم کړه! د دوی ناولي ګناهونه په ځرګنده اعلان کړه، ووایه چې یهوه خدای داسي وایي: **ای د جنایتکارانو ښاره چې محکوم او ملعون یې، ای د نجسو بُتانو ښاره چې ککړ یې، ستا ګناه انسانوژنه او بتپرستي ده!** په دې بنسټ، ستا د هلاکت ورځ رانږدې شوې ده او د ژوند پای دې راغلی دی، تا به د نړۍ د قومونو پر وړاندې مسخره او رسوا کړم. ای بدنامه او سرکښه ښاره! لري او نږدې قومونه به تا مسخره کړي.» (حزقیال:۱/۲۲تر۵پورې)

ارمیا نبي د یهوه خدای له قوله وایي چې اسراییلو زما په کور کې بتان ایښي او د بتانو پر وړاندې خپل اولادونه په اور کې د قربانۍ په نوم سوځوي:«د یهودا اوسیدونکو زما د سترګو پر وړاندې شرارت ترسره کړی دی، **زما کور ته یې**

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپل بتان راوړي دي او هغه ځای يې مردار کړی دی، د (ابن هنوم) په دره کې يې د (توفت) په نوم قربانځای جوړ دی او په هغه ځای کې د بتانو لپاره خپل زامن او لونې ژوندۍ، ژوندۍ په اور کې قرباني کوي، داسې ناوړه او وېرهونکی کار چې نه ما امر کړی ؤ او نه مې په خاطر کې راغلی ؤ.» (د ارميا کتاب:۳۱/۷-۳۰)

د اسراييلو ځانګړی خدای يهوه، د خپل غوره کړي قوم څخه ناهيلی شوی دی، اسراييل يو احمق او بې‌لاري شوی قوم بولي او دا شوني نه ګڼي چې د يهوه خدای پر لور راوګرځي يهوه خدای وايي: زه خپل قوم ته وايم «څوک چې پرېوزي بيا نه پورته کيږي؟ څوک چې لاره غلطه کړي، سمې لاري ته نه راګرځي؟ **نو ولې زما قوم، د اورشليم اوسيدونکي، په تل‌پاتې ګمراهۍ کې پاتې دي؟ ولې د درواغو پر بتانو ټينګ دي او نه غواړي ماته راوګرځي؟ د هغوی خبرو ته غوږ شوم خو يوه ريښتيا خبره مې تر غوږ نه شوه، هېڅوک پر خپل کړي ګناه پښېمانه نه دی، هېڅوک نه وايي چې څومره ناوړه کار مې کړی دی، بلکې د آس په څېر (چې د جګړې دګر ته په چټکۍ سره ځغلي) ټول په پېړه د ګناهونو پر لاره درومي.** زاني پوهيږي څه وخت وکوچيږي؛ کټمېرۍ (قومري)، خيځياکې (پرستو) او کب‌خوړونکي مرغان، (هر کال چې خدای ورته ټاکلی دی) ېبرته راګرځي خو زما قوم په ېبرته راګرځيدلو نه پوهيږي او زما له قوانينو ناخبره دی.» (ارميا:۴/۸تر۷پورې)

يهوه خدای زياتوي:«کله چې زما قوم په حماقت کې پاتې شي، دوی نه غواړي ما وپېژني، هغوی د ناپوهو ماشومانو په څېر احمقان دي، د بدۍ په کولو کې ښه استادان دي خو د ښېګڼو هېڅ استعداد نه لري.» (ارميا:۲۲/۴)

د اسراييلو له لومړي تبعيد او د معبد له ورانولو څخه ډېر کلونه وروسته هغه مهال چې د اسراييلو معبد بيا رغول شوی ؤ چې (دوېم معبد يې بولي) د عيسی (ع) او د روميانو د واکمنۍ پر مهال د اسراييلو په دوېم معبد کې همداسې ناروا چارې روانې وې چې په هغو کې د معبد کاهنان هم شريک وو، هغه مهال چې عيسی (ع) اورشليم ته ولاړ او «عيسی د [يهوه] خدای کور ته ننوت، هغو کسانو چې د معبد په انګړ کې يې پېر او پلور کاوه، له معبد څخه وشړل، د صرافانو او د کوترو پلورونکو مېزونه يې مات کړل. عيسی هغوی ته وويل: آسماني کتاب وايي چې زما کور د دعا کور دی. **خو تاسو د غلو پناځای ترې جوړ کړی دی.»** (د متي انجيل:۱۳/۲۱-۱۲؛ لوقا انجيل:۴۶/۱۹-۴۵ او نور.)

هغه وو چې د اسراييلو لوی کاهنان او د قوم مشران عيسی ته ورغلل ويې ويل چې «د چا په اجازه دې پرون له دغه ځايه تاجران وشړل؟ او چا دا واک درکړي دی؟» (متي انجيل:۲۳/۲۱)

ومو لوستل چې اسراييلو د هندوانو په څېر بتان لمانځل، تر دې چې پاچاهانو يې خپل زامن د بېمانا بتانو پر وړاندې په اور کې سوځول، نو کله چې د دوی مشرانو دا ډول ناانساني کړنې ترسره کړي دي نو عامو اسراييلو به څه ډول کړنې ترسره کړي وي، هغه کړنې چې په تاريخي سرچينو کې نه دي خوندي شوي.

اوس مهال د اسراييلو لوی بت د فلسطين ځمکه او د دوی د وران شوي معبد يو پاتې دېوال دی چې د (ژړا دېوال) يې بولي.

دا وو د اسراييلو د بتپرسيو په اړه مالومات چې سرتر پايه په بتپرستيو کې پاتې شوي دي، يوازې لږ شمېر يهودانو په ېبلابېلو زمانو کې بتان نه دي لمانځلي، نور ټول اسراييل په بتپرستيو کې ښکېل وو.

نېټه:۱۴۰۳/۱/۷ل. ل

نور بيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ